انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۲/۲۳

# سمه تأریخ لیکنه

## او د تأریخي لیکنو سمه ارزونه

### لمړی برخه



انسانان له هغه وخته چې را پیدا شوی بیا تر ننه پورې یې د ژوند دوه ستری دورې تیری کړیدی چې یوې ته د تأریخ نه د مخه دوره وایي او بلې ته تأریخي دوره. د تأریخ نه د مخه دوره هغه دوره ده چې لاهم د انسان خط لیکل نه و زده او په دی نه و توانیدلی چې دده د شاوخوا شیانو په باره کی خپل درک او پیژندنه تر ده را وروسته نسلونو ته وړاندی کړی. علامه عبدالحي حبیبی د افغانستان د لنډ تأریخ د لومړی ټوک په (۱۲) مخ کی لیکی:



پوهاند عبدالحی حبیبی

*«مؤرخانو په اصطلاح هغه دوره چې انسان د لیک په کشف بریالی سوی نه وه تر تأریخ د مخه دوره بولي، او تر هغه وروسته چې رسم الخط منځ ته راغلی (تأریخي عصر) یاد کړیدی. . . . د شرقی هیوادونو تأریخي دورې ئې تر د میلاد د مخه د (۲۵۰۰) کلونو په شا او خوا کی کښلي دي، دا ځکه چې د مصر او بین النهرین لیکني چې لوستل سویدی هم دوني عمر لري. . . . . په افغانستان کی تر تأریخ د مخه د آثارو لټوني له ۱۹۳۶ میلادی کال د اروپائی تولنی د علمي هئتونو له خوا نه شروع سویدی او لاس ته راغلی آثار و بناوې چې د اوسني افغانستان او گاونډیو هیوادونو په خاوره کی د ۶۰۰۰ کالو په شا و خوا کی د مخه انسانانو مدنیت درلود»*

د لرغونو آثارو له څیړنو او پیژندنو او همدارنګه د (ویدی) او (اویستا ئی) سرودونو اوګاتونو له لوستلو، تعبیرونو او تفسیرونو نه داسی څرګندیږی چې د اوسنی افغانستان په جغرافیه کی د تأریخي دورې نه د مخه هم تولنیز ژوند او انساني مدنیت موجود ؤ.

علامه حبیبی په همدی اثر کی دی موضوع ته داسی اشاره کوی:

*«د تأریخي آثارو له څیړنو داسی ښکاری چې د (سیند) د ناوی نه رانیولی تر د (نیل) د دریاب ناوی پورې د انساني تمدن تږغ تقریباً په سره ورته زمانه کی غوړیدلي دی».*

که مونږه له هماغو زمانو یعني ۲۵۰۰ ق م کلونو نه را په دی خوا د خپل وطن افغانستان تأریخ ته چې د نړی د تأریخ یوه درنه برخه جوړوي نظر واچوو نو وینو چې ورو ورو اریائی مدنیت اویستائی مدنیت ته رارسیږی چې د بخدي (بلخ)، هیلمند او اراکوزیا او ګندهارا (د کابل او سیند د دریابونو ترمنځ وادي) په سیمو غوړیږی او پراختیا مومي، د زردشتی دین د وحدانیت طریقه او د واحد خدای(ج) پرستش راپیلیږی او د هومته (ښه منل)، هوخته (ښه ویل) او هو



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ورشته (ښه کول) یا په دری ژبه کی د (پندار نیک، گفتار نیک، کردار نیک) د سترو اخلاقی بنسټونو پیلامه منځ ته راځی. تردی دوری وروسته د بودائی دوری مدنیت راپیلیږی او د کوشانیانو او هپتالیانو د ټولواکی په زمانو کی ښه پر مختګ کوی. کله چی د اسلام مبارک دین د دریم خلیفه په وخت کی افغانستان ته راځی نو تر هغی را وروسته د اسلامي تمدن دوره راپیلیږی، اسلامی تمدن د امویانو، عباسیانو، طاهریانو، صفاریانو، سامانیانو، غزنویانو، غوریانو، خوارازمشاهیانو، تیموریانو، مغولي حاکمانو، صفویانو، هوتکیانو، سدوزائیانو، ممحمدزایانو او بیا تر ننه پوری بیلا بیلي مرحلی تیری کړیدی، کله ښه غوړیدلی او کله د سخت زیان سره مخامخ شویدی. ددی یادوونو نه مطلب دادی چی د هری دوری سعود او نزول تر ډیره حده د هماغی مشخصی زمانی په زمامدارانو او واکدارانو پوری اړه لری، ددوی هر عمل د ملتونو او ولسونو دعکس العمل سره مخامخ کیږی، که څه هم ولسونه تر زمامدارانو ډیره پراخه حوصله لری (چی د انصاف له مخی باید حاکمان پراخه حوصله ولری) او د حاکمانو ډیری ناخوالی تر ډیره وخته پوری زغمي، خو کله چی د رژیمونو د ظلم او استبداد اندازه له حده واوړی او ولسونه ډیر په تنګ شی نو په ځینو ځایونو کی ځني خود جوشه قیامونه او د ظلم د لازیاتیدو د مخنیوی په منظور محلی پاڅونونه را منځ ته کیږی، کله دا پاڅونونه ورو ورو قوت مومی او په سراسری جنبشونو اوړی او کله هم د حاکمو رژیمونو له لوری دا پاڅونونه په ډیری بی رحمی سره مات او سرکوب شی او د ولسونو د پاره په سترو غمیزو بدلی شی. خو کله چی دا پاڅونونه په ملی مقامت باندی تبدیلیږی او د مستبد رژیم پر وړاندی د ملی مبارزی بڼه خپلوی نو بیا دی وخت کی ځینو خارجی مداخلو ته زمینه برابریږی او د جنبش د رهبری د پاره پردی اجنټان له نورو خواو څخه را پیدا کیږی، په دوکو او پیسو ورته د رهبریت مقام ورکول کیږی او په دی توګه د راتلونکو او روانو پیښو د سمي او حقیقی لیکني د پاره د تأریخ لیکونکی په وړاندی ستری ننګوني رامنځ ته کوی، مونږ په خپل معاصر تأریخ کی داسی ډیري نموني لرو چی د ناسمو تأریخي لیکنو له امله نه یواځي د وطن د عوامو او ولسونو ترمنځ د ژورو اختلافاتو حتی دښمنیو سببونه جوړ شوی بلکي د روښن فکرو او منورینو تر منځ یی هم ډیر جنجالونه جوړ کړیدی، نو له همدی ځایه داسی حکم کیدای شی:

د ظالم او مستبد زمامدار او واکدار نه هغه تأریخ لیکونکی چی دی مستبد حکمران ته په خپلو غلطو او دروغینو لیکنو برائت ورکوی او یا برعکس د یوه حکمران او واکدار هغه کره وړه چی د خپل وطن او وطنوالو په ګټه یی سرته رسولی د ناسمو د لایلو او دروغینو فکتونو په وړاندی کولو سره هغی ته بدله بڼه ورکوی او یا هم په یوه دوره کی د لومړی درجه صلاحیت لرونکی شخص ښه کړه وړه د دویم او یا دریم شخص کړه وړه بولی او د دویم یا دریم صلاحیت لرونکۍ د منفی او ناوړه اعمالو مسؤولیت د لومړی شخص په غاړه ور اچوي، په یقین سره چي نه یواځي د حیقیقتونو په پټولو کی لویه ونډه اخلی بلکي د تأریخ لیکني د اصولو له مخي پخپله ډیر لوی تأریخي خیانت کوی.

نو له دی کبله باید د وجدان له مخی هر تأریخ لیکونکی د هر زمامدار په هکله هرڅه چی لیکی هسی ولیکی لکه څنګه تیر شوی او واقع شویدی. هیڅ انسان د غلطیو او اشتباهاتو نه خالی نه دی نو که تأریخ لیکونکی دا هڅه وکړی چی د خپل قهرمان ټول مثبت کړه وړه ولیکی او په منفی اعمالو یی سترګی پټي کړی او پرده پری واچوی، خیانت کوی، آیا داډول تأریخ لیکونکی په دی نه پوهیږی چی په همدی زمانه کی یواځي دي نه دی چی منځ ته راغلي پیښني لیکی، بلکی دلته داسی نور ډیر کسان شته دی چی په پوره ایمانداری او صداقت سره ټولی تأریخي پیښني بی له دی

چی حقیقت پکی پټ کاندی لیکی او راتلونکو نسلونو ته یی پریدی. نو ضرور ده چی هر تأریخ لیکونکی زیار وکاږی چی هرڅه چی لیکی سم یی ولیکی او د ناسم لیکنو نه ډه ډه وکړی او په راتلونکی کی خپل ځان د سپکاوی، توهین او تحقیر نه وژغوری.

کله چی مونږ و غواړو چی د هری بشری ټولنی د خلکو د ژوندانه په طرز، د ټولنیزو پر مختیاو پر بهیر، د ټولنیزو اخلاقو او ټولنیز عدالت په شتون، په ټولنه کی د زمامدارانو، امپراطورانو، پاچاهانو، جمهور رئیسانو او نورو چارواکو په کړو وړو او د خپل رعیت ، حکمرانی  او تر لاس لاندی سیمو د اوسیدونکو د پاره د هغه د رژیم په خدمتونو او یا هم ظلمونو، بی انصافیو او بی عدالتیو باندی و پوهیږو نو تر بل هرڅه د مخه دې اړتیا پیداکوو چی د هماغې مشخصې ټولنې تأریخ ته مراجعه وکړو او د نوموړې ټولنې په هکله ضروری او د اړتیا وړ معلومات تر لاسه کړو. کوم شی چی ډیر اهمیت لرې او مونږ ته د یوی ټولنې د ټولنیز ژوندانه په اړه سم معلومات راکوی هغه سمه او په حقیقتونو ولاړه تأریخي لیکنه ده چی د ځینو ملحوظاتو له مخې دا ډول سمی او په حقیقتونو ولاړې تأریخي لیکنې په ډیر مشکل سره تر لاسه کیدلی شي او دلیل یې هم دادې د هری مشخصې تأریخې دوری واکمنان تأریخ د ځان په ګټه ثبتوی او نه پریدی چی د دوی نیمګړتیاوی، د دوی کمزوریانې، د دوی تیروتنې او د دوی د شخصیت او کرکټر په هکله د نظر د خاوندانو په حقایقو ولاړ او مستند فاکتونه تر عوامو (د دوی تر رعیته) پوری ورسیږی. که په هماغه زمانه کی چې دا واکمنان پکې حکمرانې کوې کوم داسی څوک پیداشی چې د دوی او په دوی پوری د تړلي حاکمې دستګاه نیمګړتیاوی او هغه کمزوریانی چې په مجموع کی د ولس او ملت د بربادی، تباهی، ناداری، خرابی او ټولنیز فساد د را منځ ته کیدو سبب ګرځیدلی دی، خلکو او ولسونه ته ور په ګوته کړی، نو تجربو ښولې ده چې دا رنګه اشخاص په ډیرې چټکی سره یا بیخې له منځه تللې او یا هم د ډیرو مودو د پاره د همدې مستبدې  حاکمې اداری په زندانونو او کوټه قلفیو کی پاتې شویدي. په مستبدو رژیمونو کی چې په هر څه باندی د حاکمې دستګاه کنترول موجود دې، تر بل هر چا نه دټولنې همدا قشر چې د تأریخ لیکنی او د ورځنیو حالاتو د ثبت او یاداشت کولو وظیفه ور په غاړه ده، په زیاته اندازه د کنترول، سانسور او روحی او جسمې فشار لاندی قرار لرې، خو د دی ټولو قیوداتو او فشارو سره سره بیاهم ، په وطن او خپلووطنوالو مین، فداکار، با احساسه او رسالتمند مسلکی او د تأریخ په عظمت او اهمیت آګاه اشخاص او پوهان حتی د خپل ژوندانه په قربانی ورکولو هم دی ته حاضریږی چې په پوره ایماداری او امانت داری سره په مستنده توګه حقایق را ټولوی او هره پیښه د رامنځ ته کیدو د ټولو عواملو سره لکه څنګه چې حقیقت دی کټ مټ په هماغه بڼه په خپلو یادښتونو کی ثبتوی او راتلونکو نسلونو ته یی په مخ کی ږدی. د تأریخي پیښو دا ډول لیکونکی د هیڅ ډول اړیکو لکه قومې، ژبنې، مذهبې، سمتې، سیاسی، ایدیالوژیکی او نورو اونورو د تاثیراتو لاندی نه راځي او بې له حق او حقیقت څخه نور هیڅ شی ته اهمیت نه ورکوی حتی نه یی وینی، کوم شی وینی او په ټول توان سره غواړی چې ویی مومې او ویی وینې هغه حق او حقیقت دی او بس.

نور بیا